AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

حبيب وقار نيټه 22/02/2010

# افغان امريکن پوهنتون افغاني قوانين تر پښو لاندې کوي

کله چيې يو ځوك په يو هېواد کې اوسېږي، يا هم غواړي چې په نوموړي هېواد کې سوداګريزې چارې پر مخ يوسي، نو تر ټولو لومړی بايد چې د هغه هېواد قوانينو او دودونو ته درناوی وکړي او همدارنګه د هغه هېواد لپاره داسې چارې ترسره کړي چې د هغوی لپاره ګټورې ثابتې شي نه دا چې داسې کارونه ترسره کړي چې د هغه هېواد اوسېدونکي داسې و انګېري چې ګواکي دوی زموږ قوانينو ته درناوی نه لري او ځان له موږ څخه لوړ ګڼي، خو که چېرې بيا هم مېلمه له برستني څخه خپلې پښې اوږدوي نو په کار دي چې د کوربه هېواد چارواکي يې په کلکه مخه ونيسي. او هر داسې کار ته چې په خپله خوښه يې ترسره کوي پرېنږدي.

زموږ هېواد چې نن ورځ له هرې خوا څخه تر تېريو لاندې دی، زموږ په هېواد کې نن ورځ بهرنيان په بېلابېلو چارو بوخت دي، چې ځينې يې د سوداګرۍ له مخې خپل کارونه مخته وړي، ځوك د افغانانو د ذهنيت اړولو له مخې او ځوك هم د ځينو نورو چارو او موخو لپاره کار کوي.

د سلواغې 28 مه زموږ په هېواد کې د شوروي اتحاد د يرغل د ماتې او له دې هېواد څخه په تېټو سترګو د وتلو ورځ وه، چې له همدې امله په ټول هېواد کې دولتي، غير دولتي، شخصي او نړيوالې ادارې، ښوونځي، کورسونه، روغتونونه او ټتولې نورې ادارې د دولت د حکم په اساس رخصت شوې وې. موږ په دې ورځ ډېرې نړيوالې ادارې وليدې چې خپل کارونه يې په ټپه درولي وو او خپلو ټولو کارکوونکو ته يې رخصت ورکړی و، خو په دې ورځ هم په کابل کې د افغان امريکن يونيورستي په نوم امريکايي پوهنتون خپل محصلين د زده کړو لپاره ورغوښتي و او خپلو محصلينو ته يې رخصت نه و ورکړی، د دوی دې کار ته ټول افغانان په څرګنده توګه د هېواد له قوانينو څخه د سرغړونې په سترګه ګوري. دوی خپلو محصلينو ته د کرېسمس او د دوی نورو خپلو رخصتيو په ورځو کې رخصت ورکوي او هغه ورځې نمانځي خو زموږ د هېواد رخصتيو او قوانينو ته درناوی نه لري، د دې پوهنتون د يو شمېر محصلينو په وينا ياد شوی پوهنتون د هېواد قوانينو ته درناوی نه لري بلکې دوی دلته هم د امريکايي قوانينو پيرو دي، سره له دې چې موږ خپل قوانين او خپل دودونه لرو.

په هر صورت موږ په دې برخه کې تر هرڅه مخکې افغان دولت ته ګوته نيسو او غوښتنه ورڅخه کوو، چې په هېواد کې د داسې سرغړونو مخنيوی وکړوي. ځکه کله چې يو مېلمه له خپلې برستنې پښې وباسي کوربه ته لازمه ده چې مخنيوی يې وکړي. ځکه که چېرې يې مخنيوی ونه کړل شي نو کېدای شي چې هغوی په همدې ډول نورو کارونو ته هم لاس واچوي چې بيا به يې مخنيوی ستونزمن وي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ